د ماینونو او ناچاوده توکو په خطرونو د پوهاوی پروګرام

# د بیرته را ستنیدونکو په مرکزونو کی د ښوونکو او ترینرانو لپاره د ماینونو او ناچاوده توکو په خطرونو د پوهاوی لارښود
# {Encashment Centers}

د ماینو نو او له جګړو څخه را پاتی ناچاوده توکو په خطرونو د پوهاوی دیپارتمینت(Mine/ERW RE)

اوکتوبر ۲۰۱۶

**لمړۍ برخه:**

**د ښوونکو د پام وړ:**

ددغه لارښود دتطبیق لپاره  یوازی۲۰ دقیقی وخت لرئ تاسو کولای شی په همدې کم وخت کی ټول موضوعات تر بحث لاندی ونیسی. تاسو کولای شئ دګډون کونکو د وخت او ستونزو په نظر کی نیولو سره وخت کم او یا ئی زیات کړئ.کوښښ وکړئ تر څو هغوی تشویق کړئ چی پیغامونو ته غوږ شی تر څو په راتلونکی کی د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو د ستو نزو سره مخامخ نه شی.

**سریزه:**

**درنو وطنوالو خپل هیواد ګران افغانستان ته ښه راغلاست!**

د نورو ستونزو او مشکلاتو تر څنګ چی هیوادوال ئی لری یو هم د ماینونو او ناچاوده توکو موجودیت دی.

څرنګه چی تاسی پوهیږۍ ماینونه او ناچاوده توکي د انسان پټ دښمنان دي او په ټولنه کی د زرهاوو کوچنیانو، ځوانانو ښځو او نارینه ؤ د ټپی کیدو او وژنی لامل ګرځي.برسیره پر دی ماینونه او ناچاوده توکي د ټولنی د بیا جوړیدو د بهیر په مخ کی خنډونه منځ ته راوړي او له کبله یې وګړي نشي کولای کښت، کرونده او د خپلو هستوګنځایونو بیا جوړنی ته په ارامه روحیه ادامه ورکړي. د ټولنې زیات شمیر وګړي د ماینونو له کبله ژوبل او مړه کیږي او اکثره دماشومانو  دمعلول کیدو او وژلو سبب کیږی. د ماین د خطرونو د خبرتیا په پروګرام کی ونډه اخیستنه او په دی پروګرام کی د برخې اخیستو لپاره د نورو خلکو هڅول زمونږ او  ستاسی ګډ مسولیت دې، ترڅو دغه پیغامونه په غور واورو او نورو ته ئی ورسوؤ او کوښښ وکړو په دغی پروسي کی په ګډون سره د خپل ځان ، کورنی او ټولنی لپاره د خدمت جوګه شۍ.

**موخه(هدف):**

د ماینونو او نا چاوده توکو په اړوند هیواد ته د بیرته ستنیدونکو  ماشومانو ، ځوانانو،نارینه وو او ښځو  د پوهی دکچی  لوړول ، ترڅو ځانونه د هغو فعالیتونو څخه وژغوري کوم چی هغوی  د خطر سره مخامخ کوی.او د پیینو  د کموالی او دخپل سر او مال دژغورنی  په  خاطر مثبت سلوک اختیار کړی.

## <u>لمړۍ موضوع : د ماینونو او له جګړو څخه د راپاتې ناچاوده توکو پیژندنه:</u>

ماینونه او ناچاوده توکی د جګړی د وسلی په توګه استعمال شوي دي.که جګړه پای ته رسیدلی هم وي ماینونه او ناچاوده توکی د انسان د بڼې کولو او وژلو ځواک لري.

ماینونه او ناچاوده توکی د ځمکی پر سر او تر ځمکی لاندې پیدا کیږي .

ماینونه او ناچاوده توکی بیلا بیل ډولونه ،کچې، بڼې او رنګونه لري.

ماینونه او ناچاوده مهمات د لرګي ، فلز او پلاستیک څخه جوړ شوی تاسو به دهغوی نموني او شکلونه په پوسترو او میز په سر وګورئ.

<u>په دغه پړاو کې به ښوونکی په پوسترو او میز پرسر شکلونه تشریح کړی او د وخت په نظر کې نیولو سره به پیغامونه ګډون کونکو ته بیا ځلی ولولی.</u>

### <u>الف : د لویانو او والدینو لپاره:</u>

**هیڅکله ماینونو او ناچاوده مهماتو ته لاس مه وروړئ.**

**ماینونه او ناچاوده مهمات مه غورځوئ او د هغوی په لوری هم څه شی مه ور غورځوئ.**

**نا پیژندل شوي سیمونه مه کش کوئ او مه ئی پری کوئ .**

**ماینونه او ناچاوده توکي په اور او اوبو کی مه غورځوئ**

**ماینونه او ناچاوده توکي له یو ځای څخه بل ځای ته مه وړئ.**

**د اوسپنو ټوټې مه ټولوئ او د زړو اوسپنو له ټولولو څخه ډډه وکړئ چی ستاسو د ځان په قیمت تمامیږي .**

**هیڅکله د ناآشنا او مشکوکو شیانو په لینونو لاس مه وهئ.**

**کله چی مو مشکوک او نا آشنا شی ولید،دهغه ځای نه لری ولاړشئ او نور خبر کړئ.**

**هیڅکله له جګړې څخه را پاتی ناچاوده توکی په کورونو کی مه ساتئ !**

### <u>ب: د ګرانو ماشومانوله پاره !</u>

**نا پیژندل شویو شیانو ته لاس مه وروړئ او مه ورنږدې کیږئ!**

**په اسلحه او جګړه ایزو توکو لاس مه وهئ.**

**ناچاوده توکی د هیڅ هدف په خاطر مه ټولوئ!**

**له ماینونو او ناچاوده توکو څخه د ساعت تیری د وسایلو په توګه ګټه مه اخلئ.**

**هیڅکله په یوه اسلحه ، ماین یا ناچاوده توکو لاس مه وهئ. که چیری خپل لویان مو هم په دې عمل لیدلی وی.**

**کله مو چی کوم خطرناک او مشکوک شی ولیدی ،له هغه ځایه لرې ولاړ شئ او خپل لویان خبر کړئ.**

**ج: په کورونو کی درلودونکو وړواوسیکووسلوپه خطرونو د پوهاوی پیغامونه:**

**- په مهماتوضربه مه واردوئ چې د هغوی د چاودنی سبب کیږی.**

**- کارتوس اونور چاودیدونکی توکی د اور څخه لرې وساتئ،کیدای شی چی چاودنه وکړی او دکومی ناوړی پیښنی سبب شی.**

**- وسلې د ماشومانوله لاسرسی څخه لری وساتئ.**

**- د کوچنیانوپه وړاندی د خپلو وسلو له پاکولو، خلاصولو او تړلو څخه ډډه وکړئ ځکه هغوی کنجکاودي ممکن وغواړي چه کارپرې ولري اویا لوبې پرې وکړی او دپیښنی سبب شی.**

**- هیڅکله هوایي ډزی مه کوئ اوکله چی نور هوائی ډزی کوي تاسو په خوندی ځایونو کی ځان پټ کړئ.**

**- وسلې د مسخرواولوبوشیان نه دي، تاسو باید لوبې پرې ونه کړئ.**

**- کوښښ مه کوئ چه ځان د نظامیانو او ماین پاکانو په شان جوړکړئ.**

دوهمه موضوع: **ګرانو وطنوالو ! دا یوه د ماینونو د موجودیت ښوونیزه سیمه ده.**

- سری رنګ شوی تیږی د ماینونو د خطر ځرګندونه کوي.

- ❖ آبی رنګ شوی تیری د ناچاوده توکو او د جګړه ځپلی سیمی خطر په ګوته کوي.

- ❖ سپینی رنګ شوی تیری بی خطره او پاکه شوی سیمه په نښه کوي. دغه نښې ښايي د جګړی په لمړیو کرښو، دیوالونو، ویجاړشویو کورونو، دسړکونو تر څنګ او په داسی نورو ځایونو کی کله چی د ماین پاکی ټیمونه کار اوفعالیت کوی ولیدل شي .

**<u>ترینر به په پیغامونو بیا ځلی تکرار وکړی.</u>**

- ❖ تل د خطر نښو ته پاملرنه وکړئ او ځان تری وژغورئ هیڅکله د ماینونو د خطر نښې مه بی ځایه کوئ !
- ❖ هیڅکله د ماینونو د خطر په نښه شویو سیمو ته مه ورنږدی کیږئ !
- ❖ د سفر په ترڅ کی تل له خلکو څخه د عامو او بی خطره لارو پوښتنه وکړئ!

**<u>دلویانولپاره:</u>**

**تل د خطر نښو ته پاملرنه وکړئ او ځان تری وژغورئ**

**هیڅکله د ماینونو د خطر نښې مه بی ځایه کوئ**

**هیڅکله د ماینونو د خطر په نښه شویو سیمو ته مه ورنږدی کیږئ**

**د سفر په ترڅ کی تل له خلکو څخه د عامو او بی خطره لارو پوښتنه وکړئ**

**تل کوښښ وکړئ د ماینونو او ناچاوده توکو د نښو په پیژندلو سره د ماین سیمی ته د ننه نه شئ!**

**پام ساتئ چی ډیر لوی شوی او ډارونکی واښه د ماینونو او ناچاوده توکو د موجودیت نښه ده خپل مالونه د څړ لپاره هلته مه بیاياست.**

**خپل ماشومان پوه کړئ چي هیڅکله د نظامې مرکزونو په شاوخوا کی لوبې ونه کړي ځکه چي همدااوس ډیری قربانیان له همدې درکه دي.**

**دریمه موضوع: <u>د ناچاوده توکو جوړه شوی سیمه:</u>**

دغه سیمه کومه چی ګورئ یوه جګړې ځپلی سیمه ده دلته چی ناچاوده توکی په سترګو لیدل کیږی د ماینونو د موجودیت امکان هم شته چی دواړه خطرناک دی داسی سیمی ته له ننوتلو څخه ډډه وکړئ.

دغه سیمه چی د تیرو د کوټ، لرګیو خاورو او نورو شیانو په وسیله نشانی شویده دسیمی د خلکو له خوا په نښه شویده چی د محلی نښو په نوم یادیږی له داسی سیمی څخه د تیریدو هڅه مه کوئ!

<u>په پیغامونو ټینګار:</u>

**د ماشومانو لپاره:**

**په جګړه ځپلو سیمو کی لوبی مه کوئ.**

**جګړو ځپلو سیمو ته مه ځئ او هلته لوبی مه کوئ!**

**تل په هغو لارو تګ او راتګ وکړئ چی د ماینونو له شتون څخه خلاصی وي.**

**ویجاړو نقلیه وسایطو او ټانکونو په لور مه ورځئ!**

**د هغو سیمو تر څنګ چی د ماینونو او ناچاوده توکو رسمی او غیر رسمی نښی ولري لوبی مه کوئ!**

**خپل څاروی مو هغو سیمو ته بوزئ چې نور ور څخه ګټه اخلي.**

**خطر لرونکو او مشکوکو سیمو ته د سونګ د موادو د را ټولولو او اوبو راوړلو لپاره مه ځئ!**

**هغو پوستو ته کومی چی نوي او یا پخوا خالی شوی لکه (کمینونه، دپوستو په منځ کی خندقونه،او سمڅوته ) ته ور د ننه نه شئ چی د مرګ ژوبلی خطر لری.**

**هیڅکله نظامی تعلیمی مرکزونو ته نږدې نه شئ!**

<u>څلورمه موضوع:</u>
خدای ج دی نکړی که چیری د ماین او یا ناچاوده توکو سره د ماین په سیمه کی مخامخ شئ ځای پر ځای ودریږئ د مسلکی مرستی انتظار وباسئ، تاسوکولای شئ له ماین پاکی ټیمونو، پولیسو ، نظامیانو او محلی خلکو څخه مرسته وغواړئ او که چیری تاسو په پاکه سیمه کی یاست او کوم ناپیژانده خطر لرونکی شی وینئ نوسیمه په نښه کړئ،محلی مسولینو،ماین پاکانو ته خبر ورکړئ،تاسو کولای شئ چی دماینونو او ناچاوده توکو د ستونزو د درلودلو په صورت کی د ماین پاکی چارو د انسجام او همغږی په ژر ځواب ورکونکی شمیره {۰۷۰۸۶۰۶۰۶۰}خبر ورکړئ!

<u>په پیغامونو ټینګار:</u>

- هیڅکله د ماین دپیښی د قربانی په لوری مه ورځئ!

- تل د مصونو او پاکو لارو په هکله د سیمی له خلکو څخه وپوښتئ !

- **<u>څه شی چی تاسو د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په باب زده کړل نورو ته ئی هم ووایاست!</u>**

**ګرانو وطنوالو:**

**اوس ستاسو پام دهغه فلم لیدلو ته را اړوو کوم چی وطن ته د یوې کورنی بیرته ستنیدل را ښئی.**

»څه شی چی مو په فلم کی ولیدل د هغه کیسه وکړئ .( یوتن)

» د دغه فلم او نورو معلوماتو په باب چی مخکی تاسوته در کړل شول پخوا تر دي د ماینونو او ناچاوده توکو دستونزو په باب پوهیدئ؟

» د لوست او پیغامونو اړوند نشرات که لرئ ګډون کونکو ته ئی وویشئ!

**لـه ګډون کونکو سره خدای پـه امـانـي وکړئ!**